# د بدنظرۍ او عشقِ مجازي
# خرابۍ او د هغو علاج



شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجددِ زمانہ
حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ادارہ تالیفاتِ اختریہ
www.hazratmeersahib.com

# مقدمه

دغه رساله دشیخُ العرب والعجم ولیٔ کامل حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب مدظله لیکل سوې رساله ده. نن سبا دښځو تر فتنې زیاته سخته فتنه دلغړزنو هلکوانو فتنه ده، خلګ ددې څخه غافله دی او دتاوانو څخه یې ناخبره دی. دحضرت صاحب دټول ژوند د وعظ او نصیحت خلاصه هم دا ده چې دګناوو څخه په خاصه دعشقِ مجازی(یعنی دښځو او لغړزنو هلکوانو) دفتنې څخه ځان وساتی او دتقوا ژوند اختیار کړی. حضرت صاحب فرمایي کوم ځای چې یو وبایي مرض راغلی وی هلته ډاکټر د ریزش او زکام دعلاج پر ځای باید د وبایي مرض علاج وکړی همدغه رنګه نن سبا دښځو او لغړزنو هلکوانو دفتنې طوفان راغلی دی، نوری ګناوی ددې فتنې په مقابل کی په مثال د ریزش او زکام دی نو څوک چې دنظر حفاظت وکړی نوری ګناوی به پریښول ورته آسانه سی.

دغه رساله هم دعشقِ مجازی او بدنظری په باره کی ده، ددې رسالې په اوله حصه کی حضرت صاحب دحسن فناوالی او دعشقِ مجازی او بدنظری حرمت دقرآن او حدیث په رڼا کی په ډیر تاثیرناکه انداز بیان کړی دی او په دوهمه حصه کی یې دعشقِ مجازی او بدنظری علاج ذکر کړی دی، که په عشقِ مجازی او بدنظری اخته یو سړی پر دغه خبرو باندی عمل شروع کړی نو ددې خطرناکه مرض څخه به انشاءالله نجات ورته حاصل سی. دغه رساله په اصل کی په اردو ژبه ده لاکن د آسانی دپاره وپښتو ژبی ته ترجمه سول. حق تعالیٰ دې د اُمَّتِ مسلمه دپاره دهدایت ذریعه وګرځوی، آمین.

**جامع او مرتب کونکی**

**یو خادم دحضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتهم**



www.hazratferozmemon.org

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ سَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى اَمَّا بَعْدُ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ○ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

زه حقير محمد اختر دا عرض درته كوم چې په دې زمانه کی د تقوادارو، دیندارو، د اصلاح سوو او دجمله صوفیانو دپاره دبربادی سامان دښځو تر فتنې زیاته دلغړزنو هلکوانو فتنه ده او ځکه چې دلغړزنو په فتنه کی ظاهری ممانعت کم دی په دې خاطر شیطان زر سړی په دغه فتنه کی اخته کړی او په نامحرمه ښځو کی اکثره دبدنظری په جرم کی اخته کړی او مولانا اشرف علی تهانوی صاحب رحمة الله علیه لیکلی دی چې

۱) دنامحرمه ښځو یا لغړزنو هلکوانو سره تعلق ساتل که څه هغه ته کتل وی یا د زړه دخوشحالی دپاره دهغه سره خبری کول یا په تنهایی کی دهغه سره کښېنستل یا دهغه د زړه دخوشحالی دپاره خپل کالی سمول یا خبری نرمول زه رشتیا درته وایم په دې تعلق سره چې کومې خرابۍ پیدا کیږی او کوم مشکلات پیښیږی هغه زه په لیکنه کی نه سم راوستلای.

۲) عشقِ مجازی عذابِ الٰهی دی څنګه چې په دوږخ کی به دمرګ او ژوند تر مینځ انسان په تکلیف وی **لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى** همدغه رنګه دبدنظری وروسته انسان په عشقِ مجازی کی په اخته کیدو سره ناقراره سی، دښه خوب څخه هم محرومه سی، دین او دنیا دواړه یې برباد سی او په آخر کی په لیونتون (یعنی دلیونیانو په ځای) کی داخل سی. په لیونتون کی نن سبا ۹۰ فیصده دعشقِ مجازی مریضان دی چې د وی سی آر، سینما، ټلویزیون او عشقی قصو په ویلو سره لیونیان سوی دی.

۳) دبدنظری وروسته په عشقِ مجازی کی په اخته کیدو سره که دګناه (یعنی لواطت) نوبت راغلی نو فاعل او مفعول دواړه دټول عمر دپاره



www.hazratferozmemon.org

بې عزته سی (یو او بل ته هیڅکله نه سی کتلای) او څنګه چې شفیق پلار دا غواړی چې زما زامن په عزت سره واوسیږی په یو بدکار کی بې عزته نه سی نو دحق تعالیٰ بې حسابه رحمت هم دغه غواړی چې زما بندګان په یو بدکار سره ذلیل او رسوا نه سی او په تقوا سره دعزت ژوند تیر کړی او پر حلال باندی قناعت وکړی او دحرام څخه پرهیز وکړی او کله چې دنیاداره ددنیا په لذتو سره خپلی سترګی یخی کړی نو زما خاص بندګان زما په عبادت او زما د ذکر په خوند سره خپلی سترګی یخی کړی او دغه یخوالی ابدی دی او د دنیادارو یخوالی په زرهاوو بلاوو کی پټ او فانی دی.

دُشمنوں کو عیشِ آب و گل دیا
دوستوں کو اپنا دردِ دل دیا
ان کو ساحل پر بھی طُغیانی ملی
مجھ کو طوفانوں میں بھی ساحل دیا

**ترجمه:** یاالله تا وخپلو دښمنانو ته دخاورو او اوبو فانی خوندونه ورکړی دی او خپلو دوستانو ته دی دخپل محبت درد ورکړی دی، دښمنان په نعمتو کی هم په عذاب دی او زه دی په تکلیفو کی هم پر آرامه ساتلی یم

په دې خاطر خواجه مجذوب صاحب فرمایي

ڈال کر ان پر نگاہِ شوق کو
جان آفت میں نہ ڈالی جائے گی
حسنِ فانی پر اگر تو جائے گا
یہ منقّش سانپ ہے ڈس کھائے گا



www.hazratferozmemon.org

**ترجمه:** ښایستو ته په کتلو سره ځان په آفت کی مه اچوه، که دی په فانی حسن باندی ځان اخته کړی نو دا نقش داره مار دی وبه دی چیچی

مولانا اسعدالله صاحب دسهارن پور(هندوستان) دمظاهرُالعلوم د مدرسې محدث او دمولانا اشرف علی تهانوی صاحب خلیفه هغه فرمایي

**عشقِ بتاں میں اسعد کرتے ہو فکرِ راحت**

**دوزخ میں ڈھونڈتے ہو جنت کی خوابگاہیں**

**ترجمه:** په عشقِ مجازی کی ته د آرام فکر کوې، په دوږخ کی دجنت په آرام پسی ګرځې

پر فانی حسن باندی (زموږ پیر) مولانا شاه ابرارُ الحق صاحب دګلشن په خانقاه کی دغه شعر وویلی

**دورِ نشاط چل بسا گردش جام ہو چکی**

**ساقیا گلعذار کی ترکی تمام ہو چکی**

**ترجمه** ځوانی چی ختمه سول نو دخوند دوران هم ختم سو، دمعشوق ټوله دلاوری ختمه سول

زه حقیر محمد اختر دا عرض درته کوم چی پر بدنظری کونکی باندی دنبی علیه السلام ښیرا ده، فرمایي **لَعَنَ اللّٰہُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَیْہِ** **(مشکٰوۃ،صفحہ:۲۷۰)** د الله تعالیٰ لعنت دی وی پر بدنظری کونکی باندی او څوک چی دبدنظری دعوت ورکوی یعنی بې پرده ګرځی پر هغه دی هم لعنت وی. د اولیاوو دښیرا څخه بیریدونکی دی دنبی علیه السلام دښیرا څخه وبیریږی، حق تعالیٰ دی موږ ټوله ځنی وساتی.



www.hazratferozmemon.org

ديو ځو شپو حسن دجادو په شان سړی ليونی کړی، په يو ځو ورځې کې يې دمخ نقشه بدله سی او په سپين ږيروالی کې خو يې نقشه بيخي عجبه سي. دحسن پر فناوالی باندی زما شعر دی

**اِدھر جغرافیہ بدلا اُدھر تاریخ بھی بدلی**

**نہ اُن کی ہسٹری باقی نہ میری ہسٹری باقی**

**ترجمه:** دځوانی جغرافيه چې بدله سوه نو دعشق تاريخ هم بدل سو، اوس نه دعاشق تاريخ پاته دی نه دمعشوق تاريخ پاته دی

يو زوړ شعر را په ياد سو

**کسی خاکی پہ مت کر خاک اپنی زندگانی کو**

**جوانی کر فدا اس پر کہ جس نے دی جوانی کو**

**ترجمه:** ديو خاورو پر بدن باندی خپل ژوند مه خاوری کوه، ځوانی پر هغه چا قربان که چا چې ځوانی درکړې ده

دعشقِ مجازی د مرض څخه دځونه ځوانانو ژوند برباد سوی دی.

زما شعر دی

**سنبھل کر رکھ قدم اے دل! بہارِ حسنِ فانی میں**

**ہزاروں کشتیوں کا خون ہے بحرِ جوانی میں**

**ترجمه:** اې زړه! دفانی حسن په دنيا قدم ډير په احتياط سره کښيږده ځکه چې دځوانی په درياب کې د زرهاوو ځوانانو وينه توی سوې ده (يعنی دعشق څخه ډير ځوانان برباد سول)



www.hazratferozmemon.org

وه جوانانِ چمن اور اُن کا ظالم بانکپن
دیکھتے ہی دیکھتے سب ہو گئے دشت و دمن

**ترجمه:** هغه د وخت ځوانان او دهغو شوخی، په کتلو کتلو سره ټول په پیری بدل سول

دبدنظری په باره کی دغه آیت نازل سو **إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ** (سیپاره ۱۸، سورت النور) یعنی الله تعالیٰ ستاسی په ټولو مصنوعاتو (یعنی کارو) خبر دی. زما شعر دی

جو کرتا ہے تو چُھپ کے اہلِ جہاں سے
کوئی دیکھتا ہے تجھے آسماں سے

**ترجمه:** ته چی څه کوې په پټه له جهانه، څوک درته ګوری له آسمانه

په دغه لوړ آیت کی حق تعالیٰ دبدنظری فعل او عمل په صنعت (یعنی کار) سره ولی بیان کړی، په دې کی څه حکمت دی، خبره دا ده چی بدنظری کونکی سړی په زړه کی د هغه معشوق دپاره د جلا جلا خواهشاتو عکسونه جوړوی، په خپل فکر کی کله مچه ځنی اخلی، کله یې په زړه پوری نیسی او داسی نور، په دې خاطر دجلا جلا صنعتو (یعنی کارو) څخه دخبریدو په باره کی الله تعالیٰ په دغه آیت کی ذکر کړی دی.

په دې خاطر علّامه آلوسی السید محمود بغدادی رحمة الله علیه په خپل تفسیر روحُ المَعَانی کی د **إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ** تفسیر په څلور عنوانو سره لیکلی دی

۱) **بِإِجَالَةِ النَّظَرِ:** یعنی ستا دسترګو په اړولو سره په بدنظری باندی الله تعالیٰ خبر دی.


www.hazratferozmemon.org

۲) **بِإِسْتِعْمَالِ سَائِرِ الْحَوَاسِّ:** یعنی بدنظری کونکی په ټوله حواسِ خمسه باندی دحرام خوند اخیستلو کوښښ شروع کړی، حق تعالیٰ دده په هر حرکت خبر دی یعنی کتلو(باصره) اوریدو(سامعه) خوند اخیستلو(ذایقه) لاس وروړلو(لامسه) بویولو(شامه) دهر قوت استعمال ته حق تعالیٰ ګوری.

۳) **بِتَحْرِيْكِ الْجَوَارِحِ:** او الله تعالیٰ دبدنظری کونکی د ټولو اندامو په حرکتو خبر دی یعنی معشوق د حاصلولو دپاره دا لاس او پښې او ټوله اندامونه چې څنګه استعمالوی هغه ټولو ته حق تعالیٰ ګوری او په خبر دی.

٤) **بِمَا يَقْصُدُوْنَ بِذَالِكَ:** او دبدنظری کونکی چې کوم آخری مقصد دی یعنی بدفعلی په هغه هم حق تعالیٰ خبر دی، په دې جمله خبریه کی جمله انشائیه پټه ده یعنی سخت عذاب به درکړل سی او سخته سزا به درکړل سی.

ما په ژوند کی دبدنظری او عشقِ مجازی ډیر زیات مریضان ولیدل او ټولو دغه راته وویل چې ژوند مو تریخ، خوب راباندی حرام، ناقراری، دمرګ خواهش، ځان د وژلو خیالات، صحت خراب، د زړه وارخطایی، زړه او دماغ کمزوره، په هیڅ کار کی مو زړه نه لګیږی، ما همیشه دغه ورته ویلی دی چې دعشقِ مجازی او دخدای نه ماسوا ته په زړه ورکولو کی هم داغه عذاب وی.

دغه شعر زه ددې قسم ناقراره خلکو په خدمت کی وړاندی کوم.

ہتھوڑے دل پہ ہیں مغزِ دماغ میں کھونٹے

بتاؤ عشقِ مجازی کے مزے کیا لوٹے

**ترجمه:** په عشقِ مجازی کی پر زړه او دماغ باندی عذابونه اوری نو دا راته ووایه چې تا دعشقِ مجازی څخه څه خوندونه واخیسته



www.hazratferozmemon.org

دعشقِ مجازی د اصلاح په باره کی زما خو شعرونه دی

**نہیں علاج کوئی ذوقِ حسن بینی کا**

**مگر یہی کہ بچا آنکھ بیٹھ گوشے میں**

**اگر ضرور نکلنا ہو تجھ کو سُوئے چمن**

**تو اہتمام حفاظت نظر ہو توشے میں**

**ترجمه:** دحسن دکتلو هیڅ علاج نسته، مګر صرف دغه دی چې نظر وساته ګوښه کښینه، که ضروری وی راوتل، نو ښه په فکر سره د نظر حفاظت وکه

**اُن کا چراغ حسن بجھا یہ بھی بجھ گئے**

**بلبل ہے چشمِ نم گلِ افسُردہ دیکھ کر**

**ترجمه:** دمعشوق دحسن څراغ مړ سو نو دعاشق عشق هم ختم سو، اوس بلبلکه ژاړی دشومانده ګل په لیدو سره (یعنی عاشق اوس پر خپل ژوند باندی ژاړی)

دغه دحسن خاوندان چې نن پر مځکه باندی ګرځی یوه ورځ به په قبرو کی خاوری کیږی، دمرګ وروسته چې په قبر کی یې وګوري نو به صرف خاوری ووینې، که دهغه خاورو څخه پوښتنه وکړې چې اې خاورو ستاسی کومه برخه باړخوګان وه، کومه برخه مو وریښتان وه او کومه برخه مو سترګی وې نو هلته به صرف خاوری ووینې، دا به ونه پیژنې چې کومه خاوره یې سترګه وه، کومه یې پزه وه، کومه یې باړخو وو. حق تعالیٰ د امتحان دپاره پر خارو باندی دحسن روغنی رنګ کړی دی چې څوک پر دې روغن باندی مری او څوک د پیغمبر پر حکم باندی ځان قربانوی،



www.hazratferozmemon.org

که دغه نمک او ښایست پر خاورو باندې نه وای نو امتحان به بیا د څه شي وای، په دې خاطر په روغنې رنګ باندې مه خطاوځې. ډیر دخدای طلبګاره په دې خطاوتل او برباد سول او وخدای ته ونه رسیدل.

**میر مارے گئے ڈسٹمپر سے**

**ورنہ مٹی کی حقیقت کیا تھی**

**ترجمه:** صاحب په روغن خطاوتی کنې دخاورو څه حقیقت وو

لهٰذا دداسې فاني ښایست سره زړه لګول څه معنیٰ لری. دحسن پر فناوالی باندې زما څو شعرونه دی

**کسی گلفام کو کفنا رہا ہوں**

**جنازہ حسن کا دفنا رہا ہوں**

**لگانا دل کا اِن فانی بتوں سے**

**عبث ہے، دل کو یہ سمجھا رہا ہوں**

**ترجمه:** یو معشوق ته کفن ورکوم، جنازه دحسن ښخوم، زړه ورکول وداسې فاني حسن ته بیکاره دی، وزړه ته دغه ورښوم

**شیریں لبی کے ساتھ وہ شیریں دہن بھی تھا**

**آغوشِ موت میں وہی زیرِ کفن بھی تھا**

**ترجمه:** دښایستو شونډانو سره هغه د ښه آواز خاوند هم وو، لاکن د مرګ په غیږ کی هغه دکفن خاوند هم وو

بلکې دمرګ تر مخه د وخت په تیریدو سره چی کله یې دمخ څخه حسن ختم سی او نقشه یې خرابه سی او


www.hazratferozmemon.org

کمر جھک کے مثل کمانی ہوئی
کوئی نانا ہوا، کوئی نانی ہوئی
ان کے بالوں پہ غالب سفیدی ہوئی
کوئی دادا ہوا، کوئی دادی ہوئی

**ترجمه:** ملا یې کږوپه په مثال دکمانی سوله، ځوک انا سوله ځوک نیکه، دهغو پر وریښتانو باندی سپینوالی غالب سو ځوک انا سوله ځوک نیکه

ان کے چہرہ پہ کھچڑی داڑھی کا
ایک دن تم تماشہ دیکھو گے
میر اس دن جنازہ اُلفت کا
اپنے ہاتھوں سے دفن کر دوگے

**ترجمه:** د لغړزنی هلک پر مخ باندی به یوه ورځ ته ږیره ووینې، صاحبه په هغه ورځ به دعشق جنازه په خپل لاس ښخه کړې

په دې خاطر دمحبت لایق صرف دخدای تعالیٰ ذات دی دچا پر حسن او جمال باندی چې هیڅکله زوال نه راځی بلکې دهغه هر وخت یو نوی شان دی **كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِيۡ شَأۡنٍ** دحق تعالیٰ د ذات څخه دهغه دصفاتو لیرېوالی ناممکنه دی، ددې برعکس ددنیا د ښایستو حسن هره لمحه مخ پر زوال دی، دغه دحسن خاوندان قبرو ته تلونکی دی، تور وریښتان یې په سپینوالی بدلیدونکی دی، ملاوی یې کږیدونکی دی، سترګی یې بهیدونکی دی، دمخ د نور څخه یې تور دود راپورته کیدونکی دی نو کوم ځای ژوند بربادوې.


www.hazratferozmemon.org

آج کچھ ہیں کل اور کچھ ہوں گے
حسنِ فانی سے دل لگانا کیا
میر مت مرنا کسی گلفام پر
خاک ڈالو گے انہیں اجسام پر

**ترجمه:** نن یو رنګه دی سبا به بل رنګه سی، دفانی حسن سره زړه لګول څه معنی لری، صاحبه پر ښایست باندی مه قربانیږه، ځکه چی پر داغه بدنو باندی به یوه ورځ خاوری اچوې

مار چی ولاړ سی نو تر شا لیکه پریږدی لاکن حسن داسی ولاړ سی چی دحسن دعلامت او نښانی څخه یوه لیکه هم نه سی پاته، هغه وخت مجازی عاشقان په ارمانو سره خپل لاسونه مږی.

حسنِ رفتہ کا تماشہ دیکھ کر
عشق کے ہاتھوں کے طوطے اُڑ گئے

**ترجمه:** دحسن دختمیدو تماشا په لیدو سره عاشق حیران او پریشانه سو دښایستو مخانو انجام چی په فکر کی وی نو مجاهده به پر سړی آسانه سی.

زما شعر دی

اُن کے پچپن کو اُن کے بچپن سے
پہلے سوچو تو دل نہیں دو گے

**ترجمه:** دمعشوق پیری دځوانی تر مخه په فکر کی ونیسه نو بیا به زړه ورنه کړې


www.hazratferozmemon.org

او دحسن د فناوالی دغه مراقبه خو دنفس دخطا ایستلو دپاره ده چې دداسی عارضی او فانی حسن وخوا ته (نفس) ورنژدې نه سی لاکن دحسن دفناکېدو په سبب دحسن څخه ځان لیری ساتل دا خو دبندګی ډیره کمه درجه ده ددې معنٰی خو دا سول که ددې ښایستو حسن نه فنا کیدای نو نَعُوذُ بِاللہ موږ به هغو ته زړه ورکړی وای لهٰذا دعبدیت او بندګی لویه درجه دغه ده چې موږ باید داسی وواېو چې یاالله ستا دمحبت او عظمت(لویی) او ستا چې پر موږ کوم احسانونه دی دهغه حق خو دا دی که تر قیامته پوری ددې ښایستو پر حسن باندی زوال رانه سی او دهغو دحسن ښایستوالی تر قیامته پوری داغسی پاته سی خو بیا به هم موږ دهغو وطرف ته ونه ګورو ځکه چې په کومه خوشحالی ته خوابدی کیږې ستا دقهر دلارو څخه چې کومه خوشحالی حاصلیږی هغه خوشحالی د لعنت وړ ده.

**ہم ایسی لذتوں کو قابلِ لعنت سمجھتے ہیں**

**کہ جن سے رب مرا اے دوستو ناراض ہوتا ہے**

**ترجمه:** موږ داسی لذتونه د لعنت وړ بولو اې دوستانو په کومو چې زموږ رب ناراضه کیږی

او دګناوو په لړ غوندی خوند کی په زرهاوو تکلیفونه او په زرهاوو غمونه پټ دی، دګناه کولو اراده او ابتدا دحق تعالیٰ څخه دلیریوالی او عذاب ابتدا ده دګناه وروسته په زړه کی دقرار او آرام خوب هم نه سی لیدل کیدای.

**ہر عشقِ مجازی کا آغاز بُرا دیکھا**

**انجام کا یااللہ کیا حال ہوا ہوگا**

**ترجمه:** دهر عشقِ مجازی ابتدا می خرابه ولیده، د انجام به یې یاالله څه حال سوی وی


www.hazratferozmemon.org

په دې خاطر وزړه ته چې غیرالله راسی نو زړه ناپاکه سی، دحسن خاوندان یوه ورځ مړه کیږی، دغه وخت که څه هم ژوندی دی لاکن ځکه چې فنا او زوال لرونکی دی نو کله چې دوی وزړه ته راسی نو د زوال او فناکیدو تاثیر ورسره راځی بیا په داسی زړه کی دحق تعالیٰ دتعلق خوند او خوږوالی نه سی پاتیدای مثلاً په یوه خونه کی تاسی ډوډی خوری دخونده ډک شیان پراته دی په دا وخت کی یوه جنازه راغلل او په دغه خونه کی کښیښول سول نو ووایاست اوس به ډوډی خوند درکړی؟ همدا رنګه کله چې وزړه ته مړی راسی نو دخدای سره دتعلق خوند نه سی پاتیدای.

حق تعالیٰ وداسی زړه ته نه راځی په کوم زړه کی چې دغیرالله(یعنی دښځو او لغړزنو هلکوانو دعشق) مرداری هم وی.

مولانا شاه محمد احمد صاحب رحمة الله علیه فرمایي

**نہ کوئی راہ پاجائے نہ کوئی غیر آجائے**

**حریم دل کا احمد اپنے ہردم پاسباں رہنا**

**ترجمه:** نه څوک وزړه ته لاره پیدا کړی نه غیر ورته راسی، احمده د زړه د حریم هر وخت نګاهبان اوسه

په دې خاطر دخدای دوستان هر وخت پر خپل زړه باندی پام کوی چې نفس د یو خوا څخه حرام خوند غلا نه کړی، په دې خاطر هغه داسی شکلو ته هم ځان نه ورنژدې کوی دکومو شکلو څخه چې احتیاط واجب دی. په دې خو نفس ته یو څه غم رسیږی لاکن ددې غم دفیض په برکت دخدای ددوستانو زړه هر وخت مست، خوشحاله او دحق تعالیٰ په عظیم قرب مشرفه وی. زما شعر دی


www.hazratferozmemon.org

**مرے ایامِ غم بھی عید رہے**

**ان سے کچھ فاصلے مفید رہے**

**ترجمه:** دحسن څخه دليريوالى غم راباندى اختر سو، دحسن څخه يو څه فاصله راته ګټمند سول

کله چې لمر راپورته کېږی نو دشرق ټوله آسمان سور سی دا علامت او نښانی دلمر د راپورته کېدو يې، همدغه رنګه کوم سړی چې دخپل حرام خواهشاتو په وينه باندی دخپل زړه آسمان سور کړی نو په هغه زړه کی دحق تعالیٰ د قرب لمر راپورته سی. زما شعرونه دی

**وہ سُرخیاں کہ خونِ تمنّا کہیں جسے**

**بنتی شفق میں مطلع خورشید قرب کی**

**مرا انجامِ اُلفت میر تم بھی دیکھتے جانا**

**مری ویرانیاں آباد ہیں خونِ تمنّا سے**

**مگر خونِ تمنّا سے جو بنتی ہے شفق احمر**

**انہیں آفاق سے دل میں طلوع خورشید حق ہوگا**

**ترجمه:** هغه سوروالی چې د ارمانو وينه ورته وايې، دداغه څخه دخدای ددوستی لمر راپورته کېږی، زما دمحبت انجام صاحبه ته هم وګوره، زما بربادی آباده په داغه وينو ده

ددې برعکس کوم خلک چې دنظر حفاظت نه کوی په آخر کی په عشقِ مجازی کی په اخته کېدو سره برباد سی او هغوته چې په دنيا څونه د ناآرامی عذاب وی هغه خپله عاشقِ مجاز محسوسولای سی او آخر پای


www.truetasawwuf.org

خونه خلک پر ځای د الله تعالیٰ دهغه معشوق نوم په اخیستلو سره مړه سول او کلمه یې هم په نصیب نه سول.

په داغه خاطر بزرګانو فرمایلی دی چې د سړی دپاره دښځو او لغړزنو هلکوانو سره تعلق (یعنی نژدیوالی) زهرِ قاتل دی. شیطان چې کله دګمراهی دهری لاری څخه ناامیده سی نو سړی دښځو او لغړزنو هلکوانو په جال کی د نیولو کوښښ کوی، دده دغه مکر او فریب دونه لوی دی چې هر څوک دده په مکر کی راسی دهغه لار خامخا بنده سی ځکه چې په نورو ګناوو کی دحق تعالیٰ څخه دونه لیریوالی نه راځی څونه چې په دغه ګناه سره راځی مثلاً که سړی درواغ ووایي یا غیبت وکړی یا دجماعت لمونځ پریږدی نو مثلاً څلویښت درجې یې زړه دحق تعالیٰ د ذات څخه لیری سی او که توبه وکاږی نو زړه یې بیرته دحق تعالیٰ وطرف ته متوجې سی لاکن که سړی د یو چا په عشق اخته سی نو زړه د الله تعالیٰ څخه ۱۸۰ درجې لیری سی، د زړه قبله یې بدله سی اوس که پر لمانځه ولاړ وی نو یې هم هغه معشوق مخته دی، که تلاوت کوی نو یې هم هغه معشوق مخته دی، که ذکر کوی نو یې هم دهغه شکل مخته دی، د زړه رخ او توجه یې دحق تعالیٰ څخه وګرځی او د یو فناکیدونکی مړی وخوا ته سی.

دحق تعالیٰ څخه دونه لیریوالی په هیڅ ګناه سره نه راځی څونه چې دشکل په عشق سره راځی. ښکاری چې د کوم مرغه ښکار کوی نو دهغه پر وزرو باندی سریښ ورولګوی چې په دې باندی هغه نه سی الوتای او په آسانی سره یې ښکار کړی، همدا رنګه شیطان وګوری چې یو سړی په ډیر تیزی سره دخدای په لار کی پر مختګ کوی، دهری ګناه څخه ځان ساتی نو د یو چا په عشق یې اخته کړی او دحق تعالیٰ څخه یې محرومه کړی لهٰذا چې هر څونه ښایسته شکل مو مخته راسی هغه ته دسترګو


www.truetasawwuf.org

تر بغلو هم مه کوری، په داسی وخت کی ړانده سی (یعنی سترګی پټی کړی) په سترګو کی مو د دید روښنایي سته خو د دید څخه لاس واخلی.
زما شعر دی

**جب آگئے وہ سامنے نابینا بن گئے**

**جب ہٹ گئے وہ سامنے سے بینا بن گئے**

**ترجمه:** کله چی می ښایسته مخته راغلله نو ړوند سوم (یعنی سترګی می پټی کړې) کله چی می دمخه ایسته سوه نو سترګی می روښی کړې

آیا هغه اَرحَمُ الرّحمین رب ته به پر دغه خبر محبت نه راځی چی زما بنده زما ورکړې رڼا (یعنی دسترګو دید) په څونه امانت سره استعمالوی، چیری چی زه په کتلو سره راضی کیږم هلته ګوری چیری چی زه ناراضه کیږم هلته خپله رڼا نه استعمالوی، زما د رضا دپاره دخپلو خواهشاتو وینه تویوی، خپل زړه زما دپاره غمجن کوی نو حق تعالیٰ هم پر داسی زړه باندی خپل رحمت اوروی. زما شعر دی

**مرے حسرت زدہ دل پر انہیں یوں پیار آتا ہے**

**کہ جیسے چوم لے ماں چشمِ نم سے اپنے بچے کو**

**ترجمه:** زما د ارمانو پر ډک زړه باندی حق تعالیٰ ته داسی مینه راځی څنګه چی مور په ژړا خپل زوی مچ کړی

داسی غمجن او مات سوی زړه ته حق تعالیٰ راځی او پر داسی زړه باندی خوشحالی اوری

**دلِ ویراں پہ میرا شاہ برساتا ہے آبادی**

**سمجھ مت میران کی راہ میں مرنے کو بربادی**


www.truetasawwuf.org

**ترجمه:** پر وران زړه باندی حق تعالیٰ آبادی(خوشحالی) اوروی، دخدای په لار کی مرګ (یعنی خپل حرام خواهشات قربانول) بربادی مه بوله

زموږ اول پیر مولانا شاه عبدُالغنی رحمة الله علیه به فرمایله که تر شنې درختی لاندی اوږ بل سی نو د درختی شنه بلګونه(پاڼی) به شومانده سی او دوهم وار بیا په ډیره سختی سره شنه او تازه کیږی، ټول کال امبار او اوبه ورکه بیا یو وخت بیرته بلګونه تازه او شنه سی، همدارنګه په ذکر او عبادت او دخدای د دوستانو په صحبت سره چی دسړی په زړه کی ځونه انوار پیدا سی که یوه بدنظری وکړی نو باطن (یعنی زړه) یې برباد سی بیا په زړه کی د ایمان خوږوالی او دحق تعالیٰ د ذکر انوار په پیدا کیدو کی ډیر وخت لګیږی. دبدنظری ظلمت (یعنی تاریکه) په ډیره سختی سره لیری کیږی، په ډیره توبه، استغفار او ژړا او په وارو وارو دنظر دحفاظت کولو وروسته بیا وزړه ته بیرته ایمانی ژوند (یعنی د ایمان خوږوالی) عطا کیږی.

زه دغه درته وایم زموږ خخه چی کومی ګناوی نه پاتیږی دهغه سبب دا دی چی موږ خپل طاقت نه استعمالوو، که چیری ګناه پریښول ناممکنه کار وای نو حق تعالیٰ به د **وَذَرُوْا ظَاهِرَالْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ** (یعنی ظاهری ګناوی هم پریږدی او باطنی ګناوی هم پریږدی) حکم نه وای راکړی، دغه حکم راکول ددې خبری دلیل دی چی په موږ کی دګناوو دپریښولو طاقت سته ځکه چی حق تعالیٰ موږ ته یو داسی حکم نه راکوی چی زموږ تر وس لوړ وی **لَا یُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا** اصلی خبره دا ده چی موږ دخپل نفس سره همکاری او ملګرتیا کوو کوم ته چی د نن سبا په ژبه کی وایې دنفس فَیوَر(یعنی ملګرتیا) کوو په داغه خاطر دګناوو په فِیوَر(یعنی تبه) کی مبتلا یو، که څه هم نفس زموږ تر ټولو لوی دښمن دی او دنفس د دښمنی خبر راکونکی نبی علیه الصلوٰة والسلام دی،


www.truetasawwuf.org

ارشاد فرمايي

**اِنَّ اَعۡدَاءَ عَدُوِّكَ فِيۡ جَنۡبَيۡكَ**

ستا تر ټولو لوی دښمن ستا په غیږ کی دی (یعنی نفس)

تاسی وواياست که تاسی ته دښمن میټاپي(شیرینی) درکړی نو تاسی یې قبلوی او که دستی هوښیار سی چی خدای دی خیر کوی په دې کی یې زهر نه يي اچولی لاکن افسوس نفس دښمن موږ ته دبدنظری لږ غوندی لذت راښکاره کړی او هغه موږ دستی قبول کړو، که څه هم په ښکاره خو نفس لذت راښکاره کوی لاکن په حقیقت کی زموږ د سزا انتظام کوی، دبدنظری وروسته د آخرت عذاب خو جلا دی په دنیا کی سړی ناقراره سی، دمعشوق په یاد کی ناآرامه سی، خوب پر حرام سی او دخدای څخه دلیریوالی په عذاب اخته سی.

دبدنظری ګناه بیخی د بې عقلی ګناه ده، نه څه ورکول او نه څه لاس ته راتلل دی بلکې په مفته زړه ناقراره کول دی، وواياست دبل چا پر مال باندی نظر کول بې عقلی ده که یا، په کتلو سره آیا هغه شی لاس ته راځی؟ کوم شی چی لاس ته نه راځی هغه ته په کتلو سره زړه ناقراره کول بې عقلی ده که یا او که فرضاً هغه لاس ته را هم سی خو بیا هم آرام نه سی حاصلیدای ځکه چی دحق تعالیٰ دنافرمانی دلارو څخه چی کومه خوشحالی لاس ته کیږی په هغه کی دغم، ناقراری او ناآرامی په زرهاوو ماران او لړمان وی. دحق تعالیٰ په نافرمانی کی د آرام او قرار خوب لیدل ډیره بې عقلی ده ځکه چی حق تعالیٰ د خوشحالی او غم دواړو خالق دی، کوم بنده چی حق تعالیٰ خوشحاله ساتی، دخدای د رضا دپاره دګناوو څخه ځان دساتلو غم پر ځان وړی یعنی دخدای دخوشحالی دپاره خپل زړه خوابدی کوی نو حق تعالیٰ هم دهغه سړی زړه خوشحاله ورساتی، بې دخوشحالی له اسبابو


www.truetasawwuf.org

دهغه په زړه کی دخوشحالی دریاب بهیږی داسی خوشحالی هغه ته عطا کړی چی پاچاهانو هم په خوب نه ده لیدلې او څوک چی حق تعالیٰ خوابدی کوی نو حق تعالیٰ هم دهغه زړه ورتریخ کړی، دحق تعالیٰ ارشاد

**وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا**

څوک چی زما د یاد څخه مخ وګرځوی نو زه به دهغه ژوند ورتریخ کړم

کوم خلک چی په عشقِ مجازی کی مبتلا دی او ددې جال څخه وتل غواړی لاکن وتلای نه سی هغه که دغه شپږ کاره وکړی انشاءالله ددې مرض څخه به خلاص سی.

۱) الله تعالیٰ چی (دګناوو دپریښولو) کوم طاقت ورکړی دی هغه دی استعمال کړی.

۲) دحق تعالیٰ څخه دی (دګناوو دپریښولو) دطاقت غوښتلو خواست وکړی.

۳) د اولیاوو څخه په خاصه دخپل پیر څخه دی (دګناوو دپریښولو) طاقت دعطا کیدو د دعاوو خواست وکړی.

۴) د ذکر پابندی دی وکړی.

۵) دګناوو د اسبابو څخه یعنی دحسن دخاوندانو څخه دی د زړه او بدن لیریوالی اختیار کړی.

۶) دخدای د یو دوست وصحبت ته دی ځی او راځی او دهغه سره دی د اصلاح دپاره تعلق پیدا کړی.

دبدنظری او عشقِ مجازی دعلاج تفصیل مخته راځی انشاءالله، دسړی حال چی هر څونه خراب وی، هر څونه غلط خواهشات چی یې په زړه کی پیدا کیږی خو ناامیده کیږی دی نه، دغه دمحبت ماده خو ډیره ښه شی ده په شرط ددې چی استعمال یې صحیح وی. دکومی طیارې په


www.truetasawwuf.org

ماشین کی چی پیټرول ډیر وی هغه طیاره په ډیره تیزی سره لوړه پورته کیږی په شرط ددې چی دطیارې رخ صحیح کړل سی، که یې دطیارې رخ دکعبې شریفی وخوا ته کړی نو په څو دقیقو کی به سړی وکعبې شریفی ته ورسوی لاکن که یې دطیارې رخ دمندر(د هندوانو دعبادت ځای) وخوا ته کړی نو په هغونه تیزی سره به سړی ومندر ته ورسوی.

دعشق ماده خو پیټرول ده که دخدای دیو دوست په صحبت سره، د ذکر الله په کثرت سره دعشق رخ صحیح کړل سی نو داسی خلک په دونه تیزی سره دخدای په لاره کی رفتار کوی چی هغه خلک کوم چی دمحبت خاوندان نه دی هغه په څو کاله کی هم نه سی رسیدای. بعضی ګناهګاره انسانان چی کله دخدای وطرف ته راغلل نو په یوه آه سره وخدای ته ورسیده، په کوم تیز رفتار چی هغو دښځو او لغړزنو هلکوانو وخوا ته ځغستل په هغونه تیز رفتار دخدای وطرف ته والوتل، دهغو آه او فریاد، ژړا او زاری، شرمنده ګی او دخدای پر یو دوست باندی ځان قربانول هغه په یوه لحظه کی دفرش څخه وعرش ته ورسول، دداسی خلکو دپاره زما شعر دی

خُوبرویوں سے مِلا کرتے تھے میر

اب ملا کرتے ہیں اہل اللہ سے

مت کرے تحقیر کوئی میر کی

رابطہ رکھتے ہیں اب اللہ سے

**ترجمه:** کوم سړی چی اول دښځو او لغړزنو سره تعلق درلودی، هغه اوس د اولیاوو سره کښیني، څوک دی هغه ته په سپکه سترګه نه ګوری، ځکه چی هغه اوس دخدای سره تعلق لری



www.truetasawwuf.org

## دبدنظری او عشقِ مجازی دعلاج دپاره دکولو عمل

اوس په دغه لیکو کې هغه دکولو عمل په لنډ ډول درته وړاندی کوم چې زما په کتاب دستور تزکیه نفس کی لیکلی دی چې دقرآن او حدیث سره سمون او دبزرګانو د ارشاداتو څخه اخیستل سوی دی، پر دغه خبرو باندی په عمل سره کولو سره به انشاءالله دبدنظری او عشقِ مجازی تر زوړ لا زوړ مرض څخه نجات درته حاصل سی او یو څه وخت پر دغه خبرو باندی په پابندی سره به داسی درته محسوس سی لکه د آخرت پر مځکه چې یم او جنت او دوږخ ته ګورم او شهوت او ددنیا لذتونه به دی په نظر کی هیڅ هم نه معلومیږی.

## (۱) د توبې لمونځ

یو وخت دخلوت وټاکه، پاک کالی واغونده او که عطر درسره وی نو عطر وواهه، اول دوه رکعته نفل د توبې په نیت وکه، بیا د الله تعالیٰ څخه پر خپلو ټولو ګناوو باندی ښه استغفار وکه چې یاالله دکوم وخت څخه چې بالغه سوی یم بیا تر اوسه چې زما څخه څونه خیانتونه سوی دی یا په زړه کی چې می څونه دغلطو خیالاتو څخه حرام خوندونه اخیستی دی یا په بدن باندی چې می څونه دګناوو خوندونه اخیستی دی یاالله زه دهغو ټولو څخه توبه کاږم او بخښنه غواړم او دا نیت کوم چې بیا به هیڅکله دګناه په کولو سره تا خوابدی نه کړم،

یاالله که څه هم زما ګناوی بې شماره دی خو ستا رحمت زما تر ګناوو ډیر لوی دی بس دخپل پراخه رحمت په صدقه زما ټوله ګناوی راوبخښه یاالله ته ډیر بخښونکی یې او بخښل دی خوښ دی بس زما ټوله خطاوی راوبخښه.


www.truetasawwuf.org

## (۲) دحاجت لمونځ

بیا دوه رکعته لمونځ دحاجت په نیت وکه او دا دعا وکه چې یاالله زما دګناوو په سبب زما پر برباد سوی عمر باندی ورحمیږه او ما دخپل نفس دغلامی څخه خلاص که، دخپل فرمانبرداری دعزت ژوند راپه نصیب که او خپله دونه بیره راپه نصیب که چې ما ستا دنافرمانی څخه وساتی، یاالله زه ستا څخه یوازی ستا طلبګاره یم.

کوئی تجھ سے کچھ کوئی کچھ مانگتا ہے
الٰہی میں تجھ سے طلب گار تیرا
جوتومیرا توسب میرافلک میرا زمیں میری
اگراک تونہیں میرا توکوئی شے نہیں میری

**ترجمه:** څوک ستا څخه یو شی غواړی څوک بل شی، الٰهی زه ستا څخه ستا طلبګاره یم، که ته زما یې نو ټوله شیان زما دی مځکه زما ده آسمان زما دی، او که ته زما نه یې نو بیا هیڅ شی زما نه دی

## (۳) دنفی او اثبات ذکر

بیا درې سوه(۳۰۰) واری د لَااِلٰهَ اِلَّاالله ذکر په دغه فکر سره وکه چې په لَااِلٰـهَ سره زړه دغیرالله څخه پاکیږی او په اِلَّاالله سره وزړه ته دحق تعالیٰ محبت داخلیږی.

## (٤) د اسمِ ذات ذکر

یو وخت درې سوه(۳۰۰) واری الله الله ووایه، کله چې په ژبه سره الله وایې نو دا فکر وکه چې د ژبی سره سم دزړه څخه هم الله راوځی


www.truetasawwuf.org

او په ډیر محبت او د زړه په درد باندی باید د الله نوم واخیستل سی څنګه چې په لیریوالی او جدایۍ کی مور مور او پلار یاده وو باید په داسی درد او محبت سره خو د الله نوم واخیستل سی، که چیری په زړه کی داسی محبت نه درمعلومیدی نو دمحبت دخاوندانو نقل کول هم کفایت کوی. بس دخدای دعاشقانو په شان خپل ظاهر په جوړولو سره او دمحبت په نقل سره دخدای نوم اخیستل شروع کړی، دحق تعالیٰ ډیر لوی نوم دی کله چې پر خوله راسی نو دګټی څخه به خالی نه وی نور به ورڅخه جوړیږی.

## (٥) د اسم ذات ذکر په یو خاص انداز

او سل (١٠٠) واری الله الله په دغه فکر ووایه چې زما د هر وریښته څخه الله راوځی، یو څو ورځی وروسته دغه فکر ورسره اضافه که چې زما د هر وریښته سره مځکه او آسمان، درخته او ډبره، وچه او لنده، حیوانان او مرغان یعنی دکاینات دهری ذرې څخه ذکر شروع دی.

## (٦) د أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللّٰهَ يَرٰى مراقبه

بیا د الله تعالیٰ د بصیر او خبیر دصفت مراقبه وکه یعنی یو څو دقیقې دا فکر وکه چې حق تعالیٰ ماته ګوری او زه دهغه حقیقی محبوب ومخته ناست یم او دا دعا کوه یاالله دغه فکر چې ته ماته ګورې زما په زړه کی راټینګ کړې چې زه ګناه ونه کم ځکه چې دغه فکر هر وخت راسره وی چې ته ماته ګورې نو بیا به می دګناه کولو طاقت نه وی او په زړه کی دحق تعالیٰ سره داسی خبری وکه یاالله کله چې ما بدنظری کوله یا کوم وخت چې می ګناه کوله هغه وخت ستا دقهر قدرت هم زه ددغه ګناه په حال کی لیدم هغه وخت که ستا حکم سوی وای چې اې مځکی وچاوده او دغه نالایق تیرکه یا که تا امر کړی وای چې بدبخته بزوګی سه نو مخلوق به زما


www.truetasawwuf.org

د ذلالت او رسوایي دید کولای یا که تا زه په یو دردناکه عذاب کی اخته کړی وای نو زما به څه حال وای لاکن یاالله ستا حلم او مهربانی زما څخه انتقام وانه خیستی کنې زما بربادی یقینی وه.

## (۷) دمرګ او قبر مراقبه

ددې وروسته یو څه وخت مرګ په یاد که چی ددنیا ټول کومکیان ماندینه، کوچنیان، عزیزان او قریبان، مزدوران، سلام کونکی ټوله پاته سول، دمرګ وروسته کالی په غچی کولو سره راڅخه کاږی، اوس غسل راکوی، اوس کفن راکوی، کوم کور چی می خپل بلی اوس ښځی او کوچنیانو په زور دهغه څخه وه ایستم، په پنځو سره حواسو چی کوم خوندونه بدن ته رارسیدل هغه ټوله ختم سول، په کومو سترګو چی می ښایستو ته په کتلو سره حرام خوند اخیستی هغه سترګی اوس دکتلو طاقت نه لری، غوږونه دغزلو د اوریدو طاقت نه لری، ژبه دکباب او چرګ دخوند معلومولو طاقت نه لری، د اندامو چی څونه خوندونه وه ټوله ختم سول، اوس که په روح کی دعبادت او پرهیزګاری نور ستته نو هغه به په کار راځی کنې ټوله خوندونه خوب و خیال سول.

بیا فکر وکه چی اوس می په قبر کی پرې باسی او تختې راباندی ایښول کیږی، اوس خلګ خاوری راباندی اچوی، دقبر په تنهایي کی تر څو منه خاورو لاندی یوازی پروت یم، دلته اوس هیڅوک نسته راسره بس کوم نیک عملونه چی می کړی وه هغه به په کار راځی، قبر یا خو دجنت دباغو څخه یو باغ دی یا د دوږخ دګاهانو څخه یو ګاه دی. مرګ ډیر یادول زړه ددنیا څخه تور کړی او دنیک اعمالو توفیق دمرګ په یاد سره حاصلیږی. په حدیث شریف کی دی د لذتو دختمولو شی یعنی مرګ په کثرت سره یادوی (جامع الصغیر صفحه ۵۳ جلد ۱).


www.truetasawwuf.org

بس دمرګ دونه فکر وکه چې دمرګ وحشت په لذت بدل سی. دومن دپاره مرګ په اصل کی دحق تعالیٰ دطرفه څخه دملاقات پیغام دی. دومن دپاره دمرګ وروسته آرام او آرام دی.

## (۸) دحشر او نشر مراقبه

بیا یو څو دقیقې دغه فکر وکه چې دحشر میدان دی زه وحق تعالیٰ ته مخامخ دحساب دپاره ولاړ یم او حق تعالیٰ دغه راته فرمایي چې اې بې حیا تاته شرم ونه دریدی چې زه دی پرېښولوم او پر غیر(یعنی پر ښځو او لغړزنو هلکوانو) باندی دی نظر واچوی او د یو فناکیدونکی لاښ وطرف ته متوجې سوې آیا پر تا باندی زما دغه حق وو؟ آیا ما ته ددې دپاره پیدا کړی وې چې ته دنورو سره زړه ولګوه او ما مه یادوه؟ آیا ما تاته دسترګو بینایي ددې دپاره درکړې وه چې هغه پر حرامو ځایو باندی مصرف که؟ اې بې حیا هم زما درکړی اندامونه سترګی، غوږونه او زړه تا زما په نافرمانی کی استعمال کړل او تا شرم هم ونه کړی، بیا فکر وکه چې دمجرمانو دپاره داسی حکم کیږی **خُذُوْهُ** ونیسی دغه نالایقه **فَغُلُّوْهُ** او په زنځیرانو یې وتړی **ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ** بیا یې وجهنم ته وروغورځوی. ددې وروسته ښه په ژړا دحق تعالیٰ څخه بخښنه وغواړه، د اعمالو د اصلاح او پر خیر باندی دخاتمې دعا وکه او دحق تعالیٰ دغضب څخه پناه وغواړه.

## (۹) د دوزخ دعذاب مراقبه

بیا دجهنم دعذاب داسی مراقبه وکه چې جهنم می ومخته دی او دحق تعالیٰ سره داسی خبری وکه چې یاالله دغه جهنم ستا بل کړی اور دی **نَارُاللهِ الْمُوْقَدَةُ**○(الآية) او یاالله ددې تکلیف وزړو ته رسیږی **الَّتِیْ تَطَّلِعُ عَلَی الْاَفْئِدَةِ○اِنَّهَا عَلَیْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ○فِیْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ○** (الآية) او یاالله دوزخیان

به د اور تر اوړدو اوږدو پایو لاندی سوځل کیږی یاالله کله چی دهغو پوستونه په سوځلو سره ایرې سول نو تا دهغو پوستونه بیرته په تازه پوستو بدل کړل چی هغوته دتکلیف او غم احساس نور هم ډیر سی **كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا** (الآية) او یاالله کله چی هغه وږی سول نو هغوته د زوزانو درخته زقوم د خوړلو دپاره ورکړل سول او داسی به هم نه وی چی د زوزانو په خاطر هغه منکره سی چی موږ خو یې اوس نه سو خوړلای بلکې مجبوراً به خپل نس په ډکوی **لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ○ فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ** ○ (الآية) او یاالله کله چی هغه تږی سول نو تا ایشولی اوبه په وچیښلې او ددغه ابو څخه دوی منکره کیدای هم نه سی بلکې داسی به یې چیښی څنگه چی تږی اوښ اوبه چیښی**فَشَارِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ○ فَشَارِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ**○ او هم دغه به ددوی میلمستیا وی دقیامت په ورځ **هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ**○

او یاالله کله چی هغوته ایشیدلی اوبه دچیښلو دپاره ورکړل سی نو دهغو کولمې به په پریکیدو سره دشرم تر ځای رالویږی **فَسُقُوْا مَآءً فَقَطَّعَ اَمْعَاءَهُمْ** او یاالله دغه دوږخیان به د اور او ایشولو اوبو تر ماین گرځی **يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ**○(الآية) او یاالله کله چی هغه ژړل وغواړی نو د اوښکو پر ځای به په وینو ژاړی او کله چی د ډیر تکلیف څخه دځغستلو کوښښ وکړی نو هغه به بیرته دوږخ ته وروغورځول سی **كُلَّمَا اَرَادُوْا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا فِيْهَا**○او یاالله دهری خوا څخه چی مات سی نو ستا څخه به دفریاد اجازه وغواړی نو ته به ورته وفرمایې **اِخْسَئُوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ** ○ په داغه جهنم کی ذلیله پراته اوسی او زما سره

خبرى مه کوى. ياالله ددنيا د اور د يوې بخركى دبرداشت موږ طاقت نه لرو نو د دوږخ اور کوم چې اويا وارى ددنيا تر اور ډير سخت دى دهغه به څنګه طاقت ولرو، ياالله زما عملونه خو دجهنم وړ دى لاکن زه ستا د رحمت څخه فرياد کوم چې د دوږخ د دردناک عذاب څخه نجات راپه نصيب کړه، پر دغه ځاى باندى دغه دعا درې وارى وکه او بنه وژاړه، که ژړا نه درتلل نو د ژړا په شان شکل جوړ که.

دغه عمل په پابندى سره کوه، په قراره قراره به دى په ايمان کى ډيروالى راسى او يوه ورځ به داسى راسى لکه دوږخ چې دى دسترګو مخته دى، بيا به دى ديوې ګناه دکولو طاقت نه وى او دګناوو څخه به يو مخ دپرهيز توفيق انشاءالله درته حاصل سى.

## (۱۰) دحق تعالیٰ د انعامو مراقبه

ددې وروسته دحق تعالىٰ د لطف او انعامو دا رنګه مراقبه وکه او حق تعالىٰ ته داسى عرض وکه چې ياالله ستا څخه زما روح دخپل وجود دپاره خواست نه وو کړى ستا کرم بې له خواست څخه ماته وجود راپه نصيب کړى، بيا زما روح دغه خواست هم نه وو درڅخه کړى چې ته ماته انسانى شکل راکه، ستا مهربانى بې له خواست څخه زه دخنزير او سپى په شکل کى نه کړم پيدا بلکې د اشرفُ المخلوقات شکل دى راته عطا کړى يعنى زه دى انسان پيدا کړم،

اې زما ربه! که تا زه دمشرک په کورنۍ کى پيدا کړى واى نو به زه ځونه په تاوان کى واى که صدارت او پاچاهى هم زما په لاس کى واى لاکن دکفر او شرک په سبب به زه تر حيوانانو بدتره واى، تا په خپل کرم سره بې له خواسته زه په مسلمانه کورنۍ کى پيدا کړم لکه شهزاده چې دى پيدا


www.truetasawwuf.org

کړم، ایمان غوندی دولت چې ومخته یې ددنیا ټوله نعمتونه او خزانې هیڅ حقیقت نه لری تا ماته بې له غوښتنې راکړی، یاالله چې ستا مهربانی دونه لوی لوی نعمتونه بې له خواسته راته عطا کړل نو فریاد کونکی به ته څنګه محرومه پریږدې.

**میرے کریم سے گر قطرہ کسی نے مانگا**

**دریا بہا دئے ہیں دُربے بہا دئے ہیں**

**ترجمه:** زما دکریم رب څخه که چا یو څاڅکی وغوښتی نو هغه دریابونه او ولې ورته وبهیولې

یاالله زه ستا ورحمت ته ددې بې غوښتنې لطف او انعامو واسطه درکوم او ستا دفضل څخه خپله اصلاح او خپل دنفس تزکیه غواړم چې تر مرګه زه ستا دنافرمانی څخه وساتل سم. یاالله بیا تا زه په ښه کورنۍ کی پیدا کړم او دخپلو نیکو بندګانو سره دی محبت راپه نصیب کړی او پر دین باندی دی عمل راپه نصیب کړی، که ستا رهنمایی نه یې نو دمسلمان په کورنۍ کی دپیدا کیدو سربیره خلګ بې دینه او ګمراه سی او یاالله هم ستا په مهربانی سره د اولیاوو سره تعلق راپه نصیب سو او دحق دخاوندانو سره دی تعلق راپه نصیب کړی که د یو بې دینه پیر په لاس ورغلی وای نو نن به په ګمراهی اخته وای یاالله په دنیا کی تا دصالحینو ملګرتیا راپه نصیب کړې ده په خپل مهربانی سره په آخرت کی هم دخپلو صالحینو ملګرتیا راپه نصیب که.

یاالله څونه ګناوی چې زما څخه سوی دی دهغه ګناوو پر وخت ستا دقهر قدرت هم ماته کتله لاکن تا دخپل بخښښ او حلم په لمن کی زما دغه ګناوی راپټې کړې او زه دی رسوا نه کړم. یاالله زما په لکو ژوندونه دی ستا پر دغه حلم باندی قربان وی که نن هم ته زما عیبونه پر خلګو باندې

ښکاره کړي نو خلک به مې دځانه سره دکښېنستلو دپاره هم پرې نږدی، یاالله په خپله مهربانی سره پر ایمان باندی خاتمه راپه نصیب کړې، یاالله په خپل فضل سره جنت ته اول داخلیدل راپه نصیب کړې. د یوه یوه نعمت فکر وکه چې الله تعالیٰ ماته مال او دولت، عزت، صحت او عافیت او داسی نور نعمتونه راکړی دی او ښه شکر ادا که او په آخر کی وحق تعالیٰ ته خواست وکه چې یاالله ستا احسانونه او انعامونه بې حده او بې اندازې دی دکومو چې فکر هم ممکن نه دی یاالله دغه وخت چې دځونه احسانو فکر وسو او دکومو بې انتها احسانو فکر ونه سو دهغو ټولو په عوض زه دهر وریښته او د کاینات دهری ذرې په ژبه شکر ادا کوم، بس یاالله په خپل مهربانی سره زما دنفس د اصلاح فیصله را وکه.

## (۱۱) دنظر دحفاظت اهتمام

کوم خلک چې ښار ته تګ او راتګ لری هغه چې کله د کوره ځخه وځی نو اول دی دوه رکعته دحاجت لمونځ وکړی او دا دعا دی وکړی چې یاالله زه خپلی سترګی او زړه ستا په حفاظت کی درکوم او ته ښه حفاظت کونکی یې. په دفترو او بازارو او داسی نورو ځایو کی دی تر وسه په اوداسه اوسی او په ذکر کی دی مشغوله وی که بیا هم غلطی ځنی وسی (یعنی ښځو یا لغړزنو هلکوانو ته وګوری) نو په بیرته راتګ سره دی پر هغه استغفار وکړی او پر هره غلطی دی څلور رکعته نفل دجرمانې کښیږدی او تر خپل وسه دی یو څه مالی جرمانه هم ادا کړی یعنی صدقه دی وکړی او که چیری دبدنظری ځخه محفوظه وی نو شکر دی ادا کړی.

## (۱۲) دحسن دفناوالی مراقبه

که پر یو ښایسته (ښځه یا هلک) باندی دی نظر ومښلی نو دستی و یو بدرنګه شکل ته وګوره، که هلته موجود نه وی نو دا فکر وکه


www.truetasawwuf.org

چې ديو تک تور چې پر مخ يې دانې دی، پيته پړه يې ده، غټ غټ غابنونه يې دی، په سترګو ړوند دی، سر يې خربيلی دی، پنډ او بې درکه بدن يې دی، خيټه يې راوتلې ده او اسهال يې کيږی او مچان پر ګرځی، فکر وکه چې کوم محبوب نن ښايسته معلوميږی هم داغه انجام به يې وی او دغه فکر هم وکه چې کله دغه دحسن خاوند مړ سی نو بدن به يې په ورستيدو سره څونه بدرنګه سی او چينجيان به پر ګرځی، نس به يې په پړسيدو سره وچاو دی او دونه بدبويي به وی چې پزه ورنژدې کول به مشکل وی. بس دداسی فانی شی سره زړه لګول څه معنٰی لری، لاکن د يو بدرنګه شکل فکر کټه به بس تر هغه وخت وی خو تقاضا دی بيا په عذابوی لهٰذا د آينده تقاضې دکمزوره کولو طريقه دا ده چې دبدنظری پر تقاضې باندی عمل مه کوه او حق تعالیٰ ډير ياد که او دحق تعالیٰ دعذاب خيال په زړه کی ټينګ که او دخدای د يو دوست سره ناسته او ولاړه پيدا که.

## (۱۳) د نفس د اصلاح تر ټولو ضروری نسخه

د خپل اصلاح او دنفس د تزکيه دپاره تر ټولو ضروری نسخه دا ده چې دخدای د يو دوست وصحبت ته په پابندی سره حاضری ورکوه او دحق تعالیٰ دمحبت خبری ځنی اوره، ځکه چې دخدای د دوستانو دصحبت ماسوا دنفس اصلاح او پر دين باندی استقامت عادتاً ډير مشکل دی بلکې ناممکنه دی، هر دخدای دوست سره چې دی زړه لګيږی دهغه سره د اصلاح دپاره تعلق پيدا که يعنی هغه خپل دينی مشاور جوړ که او دخپلو (ګناوو) خبر ورکوه او کوم علاج چې در وښوی هغه ومنه او پر هغه اعتماد وساته، انشاءالله ډير ژر به دټول روحانی مرضو ( يعنی ګناوو) څخه شفا درته حاصله سی. ذکر او معمولات په پابندی سره کوه.



www.truetasawwuf.org

**پاملرنه**: په دغه هدایاتو کی چی کوم ذکر بنوول سوی دی هغه دیو روغ سړی دپاره دی لاکن که ځوک ضعیفه وی یا مریض وی نو دپیر په صلاح دی د ذکر تعداد کم کړی. په دې خاطر دغه خبره د یاد ساتلو وړ ده چی بې له دپیر دصلاح دغه هدایات هیڅ فایده نه لری لهٰذا دخدای ویو دوست ته دځپل حال خبر ورکول او دهغه پر جواب باندی عمل او د اعتماد کولو سلسله دصحبت او خط په ذریعه جاری ساتل ضروری ده.

## (۱٤) د بدنظری دتاوانو مراقبه

دبدنظری تاوانونه په فکر کی ونیسه چی دا دونه خطرناکه مرض دی چی په اخته کیدو سره ډیر خلګ پر کفر باندی مړه سول یعنی دبدنظری په نحوست سره په عشقِ مجازی اخته سول او تر آخری سا پوری نه سوه ځنی خلاص او دکلمی پر ځای یې بل شی تر خوله راووتل العَیَاذُ بِاللّٰه. زموږ پیر حضرت مولانا شاه ابرارُالحق صاحب مدظله دنظر دحفاظت دپاره د یو څو ډیرو ضروری هدایاتو پارچه جوړه کړې ده هغه دلته درته نقل کوم، دغه هره ورځ یوواری د اصلاح په نیت وایاست.

## دحقیر عرض دنظر دحفاظت دپاره

===== ترتیب ورکوُنکی =====

## حضرت مولانا شاه ابرارالحق صاحب مدظله

### ناظمِ مجلس دعوة الحق هردوئی (هندوستان)

دبدنظرِی تاوانونه دونه ډیر دی چی بعضی وخت ددې څخه دین او دنیا دواړه برباد سی. نن سبا په دې روحانی مرض(گناه) کی د اخته کیدو اسباب ډیر زیات سوی دی، په دې خاطر دا بنه راته معلوم سول چی


www.truetasawwuf.org

ددې دتاوانو او ددې څخه دحفاظت دپاره مختصره علاج درته وړاندی کم چې ددې دتاوانو څخه حفاظت وسی. ددې دپاره پر لاندی ذکر سوی خبرو باندی په عمل کولو سره به دنظر حفاظت په آسانه سره وسی.

١) کوم وخت چې ښځې یا لغړزنی هلکوان تیریږی په اهتمام سره سترګی کښنته ساتل که څه هم دنفس هر څونه خواهش وی دکتلو. پر دې باندی حضرت خواجه عزیزُالحسن مجذوب صاحب رحمة الله علیه فرمایی

**دین کا دیکھ ہے خطر اُٹھنے نہ پائے ہاں نظر**

**کُوئے بُتاں میں تو اگر جائے تو سر جھکائے جا**

**ترجمه:** ددین خطر دی چې سترګی پورته نه کړې که بازار ته ولاړ سې نو سر به دی کښنته وی

٢) که سترګی پورته سی او پر یو چا باندی ومښلی نو ژر یې کښنته کول که څه هم هر څونه تکلیف وی که څه هم دسا ختلو اندیښنه وی.

٣) دغه فکر کول چې په بدنظری کولو سره په دنیا کی د ذلت اندیښنه سته، دعبادتو نور ختم سی، د آخرت بربادی خو یقینی ده.

٤) پر یوواری بدنظری باندی کم تر کمه دوولس رکعته نفل د کولو اهتمام او یو څه نه یو څه تر خپله وسه پوری خیرات کول او په کثرت سره استغفار کول.

٥) دغه فکر کول چې دبدنظری په ظلمت(تاریکې) سره د زړه خانه خرابه سی او دغه ظلمت بیا په ډیر وخت لیری کیږی تردې حده پر خواهش سربیره چې په وارو وارو دنظر حفاظت ونه سی ترهغه وخته زړه نه پاکیږی.


www.truetasawwuf.org

٦) دغه فکر کول چي په بدنظری سره رغبت، په رغبت سره محبت او په محبت سره عشق پیدا کیږی او په ناروا عشق سره دنیا او آخرت برباد سی.

٧) دغه فکر کول چي په بدنظری سره په قراره قراره د ذکر او عبادتو څخه زړه مات سی تر دې حده چي دپریښولو نوبت راسی او بیا یې بد ځنی کیږی.

## دعشقِ مجازی دپاره مختصره علاج

دبدنظری په نحوست سره که څوک دبنځی یا هلک په عشق اخته سو نو په داسی حال کی پر یو څو نورو خبرو باندی باید عمل وسی.

١) دهغه معشوق سره دی ټول تعلق ختم کړی یعنی دهغه سره خبری کول، هغه ته کتل، هغه ته خط لیکل، دهغه سره ناسته او ولاړه یا کله کله یې لیدل ټول دی مکمله بند کړی، تر دې حده که بل سړی هم دهغه معشوق خبری شروع کړی نو هغه دی را وګرځوی او دهغه معشوق څخه دی دونه لیریوالی اختیار کړی چي دهغه سره لیدل ناممکنه وی بلکې په غلطی کی هم پر هغه باندی دنظر مبتلو امکان نه وی غرض ټول تعلق دی ورسره ختم کړی.

٢) که دهغه معشوق د راتلو خطر وی نو په قصداً دی دهغه سره جنګ وکړی چي دده سره بیا د دوستی هغه ته هیڅ امید هم پاته نه سی.

٣) دهغه معشوق خیال دی قصداً نه راولی، نه دی دتیر وخت خیالات په را وستلو سره خوند اخلی چي دغه د زړه خیانت دی کوم چي ګناهِ کبیره ده او کوم چي دزړه خانه ورخرابه کړی او ددې تاوان تر بدنظری هم ډیر دی.


www.truetasawwuf.org

٤) عشقی شعرونه، عشقی قصې او رسالې دی نه وایې، ټلویزیون، وی سی آر، د لڅ او شهوت پورته کونکی عکسو څخه دی یو مخ پرهیز وکړی او دداسی ځای څخه چیری چی بې حیایي او نافرمانی وی لیری دی اوسی، دنافرمانو په صحبت کی دی نه اوسیږی.

٥) ددنیا دحسن خاوندانو بې وفایي دی په یاد کړی چی پر هغو باندی که څوک هر څونه ځان، مال، دولت او عزت ټول قربان کړی لاکن که دهغو زړه دبل یوه سره ولګیدی یا که یو ډیر پیسه داره ورپیدا سی نو د زاړه عاشق څخه سترګی اړه یي او بعضی وخت دهغه څخه ځان دخلاصولو دپاره هغه په زهرو مړ کړی.

٦) که هغه محبوب مړ سو نو ته یې ژر تر ژره تر قبره رسوې او که ته اول مړ سوې نو هغه معشوق به ستا د لاښ څخه بیزاره سی او که ددواړو څخه دیوه حسن هم ختم سو نو ټوله عشق ختم سی، ځنګه عارضی محبت دی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه دخپل کتاب التشرف بمعرفة احادیث التصوف په دریمه حصه کی پر ۳۴ صفحه باندی یو حدیث شریف نقل کړی دی

**اَحْبِبْ مَنْ شِئْتَ فَاِنَّكَ مُفَارِقُهٗ**

دچا سره چی دی زړه غواړی دهغه سره محبت وکه خو یوه ورځ دهغه څخه جلا کیږې.

٧) ددې هدایاتو ټوله لیکل سوی اعمال دی په پابندی سره کوی په قراره قراره به نفسانی خواهشات کمیږی او دغه خواهش دی سړی نه کوی چی حرام خواهشات دی پر مخ ختم سی بلکې پکار فقط دونه دی چی حرام


www.truetasawwuf.org

خواهشات دونه مغلوب او کمزوره سی کوم چی په آسانی سره په قبضه کی راسی.

پر دغه ذکر سوی طریقو باندی په عمل کولو سره به یوه ورځ انشاءالله نفس په قبضه کی راسی او دغیرالله دمحبت څخه به نجات حاصل سی او هغه انعامونه به زړه او روح محسوس کړی چی په هغه سره به روح هر وخت د وجد (یعنی مستی) په حال کی وی او زړه به داسی آرام محسوس کړی کوم چی پاچاهانو په خوب هم نه دی لیدلی او داسی به محسوس سی لکه یو دوږخی ژوند چی په جنتی ژوند بدل سی.

**نیم جاں بستاند و صد جاں دھد**

**انچہ در وھمت نیاید آں دھد**

حق تعالیٰ (ګناه دنه کولو) په مجاهداتو کی فقط نیم وجود وِیلی کوی لاکن ددغه په بدله کی په سوو قوتونه ورته عطا کوی او په باطن کی داسی نعمتونه ورکوی چی د سړی په ګومان کی هم نه سی راتللای. اوس نو دعا کوم چی حق تعالیٰ دی دغه دستورُالعمل دخپلو بندګانو دپاره د نفس د خباثتو څخه او د غیرالله د زنځیرانو څخه د نجات ذریعه وګرځوی او دغه خدمت ته دی دقبولیت شرف ورکړی.

**پاملرنه:** هره ورځ دوه رکعته نفل کوه او په بنه ژړا او زاری سره دخپل اصلاح او دنفس د تزکیه دپاره دعا کوه ځکه چی بې د الله تعالیٰ له فضل او کرم څخه دهیڅ سړی نفس نه سی پاکیدای، دغه نعمت بې دحق تعالیٰ له فضل او رحمت څخه هیڅوک نه سی حاصلولای.

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ


www.truetasawwuf.org